# دَ سېف الرحمان سليم ترقي پسنده،مقصدي اؤ انقلابي شاعري

*....ډاکټر نصرالله خان اسسټنټ پروفېسر اسلاميه کالج يونيورسټي پېښور

شلمه صدئ په عالمي کچه يوه ډېره اهمه اؤ زرخېزه صدئ ګڼلے کېږي، چې انسان په کښې بې کچه ترقي اؤ دَ يؤ بل سره سيالي کړې ده. دې صدئ پښتو ژبې اؤادب ته ډېر څهٔ ورکړې دي. چې په دغهٔ ډېر څهٔ کښې لوي لوي شاعران، اديبان، نقادان اؤ څېړنکاران شامل دي

سېف الرحمان سليم هم دَ شلمې صدئ پېداوار دے چې په دغه سترو اؤ ادبي شخصيتونو کښې يؤ روښانه نامه لري، چې پښتو جديد ادب ئې ډېر متاثر کړے دے. هغه پېدائشي ترقي پسند، قام پرست اؤ بشر دوست شاعر ؤ، ځکه چې هغه دَ خدائي خدمتګار تحريک دَ يؤ سرګرم غړي جلال شاه په کور کښې پېدا شوے ؤ. دَ خپل کورني تربيت نه علاوه دَ هغه په روزنه کښې دَ يؤ قام پرست اؤ ترقي پسند استاذ حمدالله ډېر لاس ؤ. چې هغهٔ ترې دَ خپل کلي په مدرسه کښې تور ټکي زده کړي وو. دَ دغه نه علاوه خپل مشر ورور عزيز الرحمان به ورله دَ پښتو اؤ اردو سياسي مجلې راوړې چې دَ هغه په سياسي اؤ تعليمي روزنه کښې ئې نوره هم اضافه کوله. دَ دې نه علاوه هغه دَ هندوستان په "پونا" ښکار کښې هم شپږ کاله تېر کړي وو. چرته چې ئې نهٔ صرف مهاتما ګاندهي اؤ مؤلانا ابوالکلام آزاد دَ ډېر نزدې نه وليدل اؤ واؤرېدل بلکې ورسره دَ نامتو مترقي ليکونکيو کرشن چندر اؤ سعادت حسن مېنټو په ادبي محفلونو اؤ ناسته پاسته کښې هم شريک شوے ؤ.ځکه خو سليم دَ اولسي ادبي جرګې نه وړاندې دَ ترقي پسندئ اؤ قام پرستئ څهٔ لږه ډېره روزنه شوې وه. په دغه شپږ ورځو کښې ترقي پسند تحريک ښهٔ په زور اؤ شور کښې ؤ. دغه تحريک په ادبياتو کښې انقلاب راوستو. دَ دغه ادبي تحريک په حواله ډاکټر سيد عبدالله داسې ليکي.

" ترقی پسند فکر میں سب سے زیادہ اہمیت اس بات کو حاصل ہے کہ مادہ ہی حاصلِ زندگی ہے اور اس کی تسخیر و تنظیم کے لیے عقل اور سائنسی حقائق کی معاونت ناگزیر ہے. ترقی پسند تحریک نے سر سید کی عقلیت کو زیادہ واضح راستوں پر چلایا

اور اس کی مقصدی بنیادوں کو اور زیادہ مستحکم کرتے ہوئے اس کو مکمل انسانی زندگی کا ترجمان قرار دیا۔ صحیح ترقی پسند نظریوں کے مطابق ادب کا مقصد تفریح نہیں بلکہ ذہن کے نئے مقاصد زندگی کی تکمیل کے لیے تیار کرنا ہے۔ عوام دوستی اس ادب کی سب سے بڑی بنیاد ہے اور تنظیم اور جدوجہد پر اعتماد اس کا سب سے بڑا عقیدہ ہے ۔" ص ۲۹۹

ڈاکٹر سید عبداللہ، مباحث، مجلس ترقی ادب، لاہور،طبع اول فروری۱۹۶۵ء ص ۲۹۹

سیف الرحمان سلیم دَ انجمن ترقي پسند مصنفین سره پوخ ملګرے شو اؤ وروستو دَ هغوي پۀ سیاسي تربیت اؤ روزنه کښې دَ کاکا جي صنوبر حسېن مومند، فارغ بخاري، رضاهمداني، افضل بنګش، اجمل خټک، دوست کامل مومند، امیر حمزه خان شینواري اؤ دَ اولسي ادبي جرګې مجلسونو یؤ ډېر فعال کردار تر سره کړو، دَ دې نه علاوه دَ کارل مارکس اؤ مارکسزم نوم اؤ ذکر به پرې ډېر ښۀ اؤ خوږ لګېدو چې تر مرګه پورې دَ هغه دَ فلسفې پلوي پاتې شوے دے.

هم دغه وجه وه چې پۀ هغۀ قسما قسم الزامونه هم لګېدلي وو چې دے دَ پښتونستان ایجنټ اؤ ترجمان دے هم پۀ دغه وجه دَ رېډیو پاکستان پېښور دَ ملازمت نه وویستلے شو اؤ تر یؤ کال پورې پۀ افغانستان کښې استوږن ؤ ولې دغه پردېسئ اؤ الزامونه دَ هغه پۀ قام پرستئ اؤ ترقي پسندې نظریه کښې هېڅ کمے را نۀ وستلو بلکې دَ هغه عقیده اؤ نظریه ورسره نوره هم پخه شوه.لکه چې وائي:

دا پۀ وینو چې خړوب ده، دا پۀ اوښکو چې سېراب دے

دا زما دَ ژوند قیصه ده، دا زما دَ ژوند کتاب دے

دا خو زۀ یم چې څۀ وائم، اؤ دا ځکه چې پښتون یم

هره ساه مې زلزله ده، هر قدم مې انقلاب دے....۳۱

دَ سلیم شاعري ډېره خوږه، نرمه، پسته اؤ دَ مینې اؤ خلوص نه ډکه ده.هغه یؤ ترقي پسند، روشن فکره، مقصدي اؤ انقلابي لیکونکے ؤ. چې دغه خصوصیات دَ هغه پۀ شاعرئ کښې لۀ ورایه بریښي. هغۀ یؤ رښتینے شاعر ؤ. دَ هغه صداقت بیاني پۀ لوستونکو اؤ اؤرېدونکو کښې شعوري بېداري پېدا کوي. ځکه چې دَ شاعرئ تاثر هر څوک مني شاعر دَ معاشرې پۀ عروج وزوال کښې لوي لاس لري. سید رسول رسا دَ انګرېزئ ژبې مشهور روماني شاعر

شیلے دَ شاعرئ عظمت داسي بيانوي.

" شاعر دَ ګونګي دُنيا خلقوو ته دَ خبرو چل ښايي. شاعر دَ جنګونو ګلونه غړوي. شاعر خلقو ته دَ سمي دَ سياست اؤ دَ مهذب ژوند تېرولو درس ورکوي. شاعر دَ غريبو، خوارو اؤ نادارو مددګار دے، اؤ دَ باطل اؤ دَ ظلم سره هر وخت دَ حق پهٔ پره کښې جنګ ته تيار دے. شاعر دَ وطن مړو خلقو کښې دَ غېرت روح واچوي اؤ دَ وطني جنګ اؤ آزادئ دَ پاره خلق سر پهٔ تلي مېدان ته را اوباسي.... شاعر يؤ سپاهي دے، يؤ سياست دان دے، يؤ قانون ساز دے، يؤ مصلح دے. غرض دا چې دَ بنيادم لوي خېر خواه اؤ لوي محسن دے اؤ ولې به نهٔ وي دَ شاعر لاس کښې دّ انساني جذباتو دَ را اوچتولو اؤ پهٔ يؤ کار باندې دَ آماده کولو تارونه دي ـ"....۶۹

سيد رسول رسا، ادبي تنقيد، منظورعالم پرېس، پېښور، س.ن مخ ۶۹

دَ دې حوالې پهٔ تناظر کښې کهٔ دَ سليم شاعري وڅېړلے شي نو هم دغه ذکر شوي خصوصيات لري. دَ هغهٔ دَ شعر پهٔ اؤرېدو يا لوستو دَ اؤرېدونکي يا لوستونکي جذبات و احساسات رالړزېږي لکه چې پهٔ مقصدي اؤ انقلابي انداز کښې يؤ کوټلې حقيقت ته دَ شعر پهٔ خوږه ژبه اشاره کوي.

تهٔ دَ هغهٔ نه دَ خېر طمع کوې

چې ئې پهٔ خټه کښې هم ښهٔ نشته دے

ژبه چې غواړې اول خلهٔ پيدا کړه

ژبه عبث ده چې دې خلهٔ نشته دے

زهٔ خو هم ستا کوڅه کښې اوشو کېدم

تا خو وئيل چې دلته غلهٔ نشته دے...۸۳

دَ سليم شاعري پهٔ خپله غېږه کښې مختليف زړهٔ راښکونکي رنګونه لري هم دغه وجه ده چې پهٔ اول ځل اؤرېدو يا لوستو سره لوستونکي اؤ اؤرېدونکي پام ځان ته راګرځوي. لکه چې پهٔ هاغه دور کښې هم اؤ نن سبا هم چې دَ اقتدار حوس زمونږ نام نهاده مشران لېوني کړي دي. سليم ورته څومره ښکلې شعري ژبه ورکړې ده.

څاڅکے اوبهٔ هم کلک اودهٔ سړے راوَلړزوي

ښڅه اودۀ شم چې هر خوا اوښکو ژړا ته ګورم

دَ اقتدار حمام دَ ټولو نه جامې وویستې

خان جي ته ګورم کۀ قاضي ته کۀ ملا ته ګورم...۱۷۹

دَ سلیم پۀ شاعرئ کښې یۀ انقلابي، مقصدي اؤ ترقي پسنده اهنګ دے. دَ هغۀ پۀ کلام کښې دَ غلامئ نه نفرت، دَ نویو رجحاناتو لټون، دَ یۀ نوي سماج اؤ دَ یۀ نوي ماحول ذکر اؤ دَ بدلون جذبه ده. دَ سلیم دَ ترقي پسندئ پۀ حقله سلیم راز لیکي

" چې کله هغۀ دَ خپل کلي پۀ مکتب کښې داخل کړے شو نو هلته ئې دَ خپل نصاب سره سره ذهني روزنه دَ میاں ګُجردَ کلي یۀ قوم پرست اؤ ترقي پسند استاذ حمدالله وکړو.... دَ زلمی توب پۀ زمانه کښې ئې دَ خپل یۀ رشته دار کره دَ هندوستان پۀ مشهور ښار پونا کښې شپږ کاله تېر کړي وو چرته چې ئې نۀ صرف مهاتماګاندي اؤ مولانا ابوالکلام آزاد دَ ډېر نزدې نه اولیدل اؤ واؤرېدل بلکې دَ نامتو مترقي لیکونکیو کرشن چندر اؤ سعادت حسن منټو پۀ ادبي محفلونو اؤ ناسته پاسته کښې هم شریک شو، ځکه نو دَ اولسي ادبي جرګې دَ قیام نه وړاندې هم دَ قوم پرستی اؤ ترقي پسندئ پۀ لحاظ لږه ډېره روزنه دَ سلیم شوې وه ـ" ...۱۸،۱۹

سیف الرحمان سلیم، دَ وړو وړو خدایانو دې بنده کړم،ماسټر پرنټرز، جنګلي محله، پېښور ښار،چاپ اول ۲۰۰۸ء مخ ۱۸،۱۹

سلیم ګڼ اړخیز ذهن لرلو. دَ خپل خوار اولس هر درد و غم ئې نۀ یوازې محسوسولو بلکې دَ هغوي پۀ هره سخته کښې به دَ هغوي ملګرے هم ؤ لکه چې دَ خپل غریب، بې کس اؤ محکوم اولس پۀ حقله وائي.

هر وګړے چې دَ قام مې وژل کېږي

ما ته داسې درد را رسي لکه زۀ مرم ...۱۵۰

پۀ دې خونړئ معاشره کښې پۀ پښتون اولس قسما قسم لوبې شوې دي اؤ لا دغه خونړئ سلسله دَ تم کېدو نوم نۀ اخلي بلکې دَ وخت سره سره حالات نور هم خرابېږي. سلیم دَ خپل وخت حالاتو ته دَ شعر پۀ ژبه اشاره کوي:

خدائې دې وکړي چې دروغ وي خو دا اؤرم

پېښور هم پۀ خوارانو سُور تنور شو

چې مې نۀ ؤ خوښ هغه مخې له راغلو

چې مې نۀ ؤ کړے هغه سوال منظور شو

کار ئې څۀ دے چې زما پۀ پوله ګرځي

مړ خو نۀ يم چې ميراث مې دَ تربور شو...۹۵

سليم چې پۀ کوم دور کښې ژوند کولو پۀ هاغه دؤره کښې فرنګيانو پۀ پښتنو اؤ پۀ خصوصي توګه پۀ خدائي خدمتګارو ژوند لنډ تنګ کړے ؤ.هر پلؤ ئې دَ ظلم بازار ګرم کړے ؤ. پۀ دغه ظالمانو اؤ جابرانو کښې زمونږ خپل پښتانۀ ورونه هم شريک وو کوم چې دَ لالچ تندې اؤ لوږې اخستې وو.هم پۀ داسې وخت کښې يؤ رښتنے ترقي پسند، روشن فکره، مقصدي اؤ انقلابي شاعرنه هم دا طمع کېدے شي. لکه چې سيلم دَ خپل قام اؤ وطن سره دَ مينې اعلان کوي.

خپله خاؤره به پۀ سترګو ښکلوومه

سر دَ لاندې کۀ دَ پښو نه اوېزان يم

چا پلوسي اؤ خوشا منده مې زده نۀ کړه

دې کتاب کښې نالائقه دَ جهان يم...۱۸۶،۱۸۷

سليم يؤ غېرتي پښتون شاعر ؤ. هغه دَ چا نه وېره نه کوله اؤ نۀ دَ ظلمونو،سزاګانو اؤ جېلونو نه وېرېدو ځکه خو مُلا جان ته وائي چې:

دَ دنيا ولوږو تندو وپاللم

ما ته سختئ مُلا دَ ګور څۀ دي...۱۱۸

دَ سليم پۀ شاعرۍ کښې حرارت،حرکت اؤ مزاحمت دے. دَ خپل وخت سماجي حالات ئې ښۀ پۀ نره بيان کړي دي. دَ سماجي لرې برې خلاف ئې خپل بدني اؤ قلمي جهاد کړے دے.پۀ خپله پښتنه خاؤره مئين ؤ. دَ خپلې خاؤرې قدروقيمت ورته معلوم ؤ ځکه خو پۀ

نظم"پښتنې زمکې ته" کښې وائي:

ته هغه مور يې چې پرې فخر کېږي

ته هغه زور يې چې پرې فخر کېږي

تا نه مې پلار هم مې نيکونه ځار شه

تا نه زما غونډې زرګونه ځار شه... ۱۳۸

دَ انسانيت تقاضه دا ده چې هر چا ته دې خپل حق اؤ خپله آزادي ورکړے شي. پۀ اسلام کښې مساوات يعنې برابرے يؤ اهم جُز دے..سليم هم دَ برابرئ قائل ؤ. دَ ټولو ترقي پسندو دغه مرام ؤ چې پۀ معاشره کښې دې لاندے باندے نۀ وي، کۀ څوک اقليت کښې وي دَ هغو سره دې انصاف وشي دَ هغوي دَ عبادت خانو دې خيال وساتلے شي اؤ تحفظ دې يقينی شي اؤ کۀ داسې نۀ وی نو بيا به هم داسې کېږي چې:

سترګې مې وشرمېږي ودرېږمه بېرته راشم

لاړمه راغلمه څو څو ځلې کعبې پورې

چا درته وې چې څه ګرجې اؤ بت کدې سېزه

اوس هغه اور راغلو مُلا ستا مُصلّې پورې...۱۴۳.

څنګه چې نن سبا هم نيم مُلا خطره ايمان پۀ ټوله سيمه کښې اړے کړے پيدا کړے دے اؤ ټوله نړئ ئې دَ ستونزو ښکار کړې ده دغه شان مُليان دَ سيلم پۀ زمانه کښې هم ؤ. نن چې څنګ دهقانان دَ خانانو خوراک جوړ شوي دي دغه شان پۀ هاغه وخت کښې هم وو. سليم دغه نظاره دَ شعر پۀ ژبه داسې ښکاره کوي چې .

پوهه يم چې چرته دي مُليان روان

دوي خو دې پۀ لاره دَ تاوان روان

خاؤرې به دهقان ته څۀ فائده وشي

مخکښې چې دَ دوي نه دَ دوي خان روان..۷۵

پۀ دې ټوله نړئ چې پۀ دغه وخت کښې څومره شاعران،اديبان اؤ نقادان تېر شوي دي ټولو

دغه دَ ترقي پسندی لاره ټینګه کړې ده. دَ ټولو مقصد اؤ منشا دا وه چې دَ خپل وخت غریب اولس،پرېوتے انسان اؤ مزدور ورور ته دَ ژوند اسائشونه ورکړي. دَ لري بري خاتمه وکړي اؤ معاشره پۀ مساواتو قائم کړي. ډاکټر محمد حنیف دَ ترقي پسندی مقصد اؤ منشا پۀ دې ټکو بیانوي

" ترقي پسندي دَ یوې رویې اؤ رجحان نوم دے چې مقصد ئې دَ انساني وقار پاسداري، دَ معاشرتي اؤ سماجي حالت اوچتول، دَ امن، ورورولۍ اؤ سوکالۍ فضا جوړول، دَ زور ظلم، بې انصافۍ، بدامنۍ اؤ تسحصال خلاف مزاحمت کول اؤ پۀ خصوصي توګه دَ سرمایه دارانه نظام دَ ناوړه روئیو غزونه اؤ دَ پرېوتي طبقي را اوچتول دي ـ" ...۵۶۷،۵۶۸

محمد حنیف، پۀ پښتونخوا کښې ترقي پسند تحریک اؤ دَ پښتو ترقي پسندې شاعری تحقیقي اؤ تنقیدي جائزه( ۱۹۲۰ء ـ ۱۹۴۷ء)، غزنوي کتاب پلورنځی، کوېټه، ۲۰۱۴ء مخ ۵۶۷،۵۶۸

سیف الرحمان سلیم هم پۀ دغه عظیمو انسانانو کښې شامل ؤ چا چې دَ غریب اولس مظلوم اواز دَ خپل شعر پۀ ذریعه اوچت کړے دے. لکه چې پۀ "زېرے" نظم کښې دَ خوارانو،مزدورانو،محکومانو اؤ مظلومانو پۀ حقله وائي.

زما خوارانو مزدورانو ورونو

اے محکومانو مظلومانو ورونو

زېرے چې مونږ دَ اتحاد وکړو

پۀ خپل تنظیم مو اعتماد وکړو

مونږه منزل ته ډېر قریب راغلو

مونږه رفتار لکه دَ باد وکړو

اوس به کۀ خېر وي خپل جهان جوړ کړو

مونږه تقدیر به دَ انسان جوړ کړو

ستوري به زمکې ته پسخېږي زمونږ

مونږ به دَ زمکې نه اسمان جوړ کړو...۱۲۴

دَ ترقي پسندو مقصد خپل اولس ته پهٔ ژوند کښې اسائشونه پيدا کول وو. دَ هغوي پهٔ سپورو شونډو خنداګاني راوستل وو لکه چې سليم هم پهٔ دغه نظم کښې وړاندې ليکي:

داسې جهان چې خوشحالۍ وي پهٔ کښې

هر يو موسم دَ سوکالۍ وي پهٔ کښې

دَ هر چا شونډو ته خندا اورسي

او دَ يو بل سره سيالۍ وي پهٔ کښې

او دغه يو داسې ښائسته پهٔ هر څه پوره جهان وي چې:

دَ ولوړو تندو شکايت به نهٔ وي

دَ چل فرېب ډک سياست بهٔ نهٔ وي

هلته ضمير به دَ چا نهٔ خرڅيږي

دَ دې خبرو څهٔ حاجت به نهٔ وي

او دا به يو داسې مثالي جهان وي چې ټول اولس به سره برابر وي، دلته به دَ هر چا سره انصاف کيږي سليم وړاندې ليکي:

هلته به قدر دَ انسان کيږي

دَ هر يو درد به ئې درمان کيږي

هلته پهٔ پېښو کښې پېکړې خو نهٔ وي

هلته دې ګرځې څو ئې توان کيږي...١٢٥

ځکه چې دلته خواري مزدوران وکړي ولې ګټه ئې شتمن واکمن يوسي، چې نهٔ نهٔ پهٔ سينه کښې څهٔ زړهٔ لري او نهٔ احساس لرې لکه چې سليم ئې حقيقي نقشه هم پهٔ دغه نظم کښې راکاږي

دلته خو فصل زمونږ نور يوسي

دانه دانه رانه پهٔ زور يوسي

ماشومان ټول راته نَهَر پرېږدي

مېنځ نه ډوډۍ زمونږ دَ شکور یوَسي

زمونږ دَ شونډو تبسم لُوټ کړي

زمونږ اواز  نه ترنم یوَسي

پهٔ قوانینو زمونږ خُلې وتړي

مونږ نه طاقت دَ تکلم  یوَسي

اؤ بیا پهٔ اخره کښې ډاډه دے اؤ وائي چې:

دَ صبر جام زمونږه توي شولو بس

دَ انقلاب بچے ښهٔ لوي شولو بس

اوس دَ دنیا څهٔ ضرورت نه ګنم

زما یقین دے خلق پوي شولو بس

زما خوارانو مزدورانو ورونړو

اے محکومانو مظلومانو ورونړو...۱۲۶

سلیم یؤ حق پرست انسان ؤ. دَ خپل زپلي اولس دَ پاره همېشه دَ زورورو سره لاس پهٔ ګرېوان ؤ. لکه چې لیکي:

هم زهٔ یؤ لېونے یم چې دَ حق مرسته کوومه

ملګریو مې وهلي دي پهٔ خُلو باندې مُهرونه

څهٔ ښکلي قمیصونه ترېنه جوړ کړل سرفروشو

کفن چې ئې پهٔ سر ؤ ګرزېدل به تر پرونه...۱۴۴

څنګه چې نن سبا پښتون اولس پهٔ نهٔ کړې ګناه کښې ښکېل دے دغه شان دَ سلیم پهٔ وخت کښې هم ؤ دغه سلسله لا جاري ده. پښتون کهٔ دَ خُلې نه سُږ اوباسي نو واکمن ئې خُلهٔ پهٔ سوک ماتوي. پهٔ پښتون اولس پسې قسما قسم افواګانې خورېږي لکه چې سلیم ئې حالات

بیانوي:

دَ محتسب زړهٔ کښې څهٔ غلا ده ضرور

چې سازو خلقو پسې غلهٔ خوروي

زما خبرو نه قدغن لرې کړه

نو افواګانې به څوک نهٔ خوروي...۲۰۱

دنیا تل پهٔ امېد خوړلے شي. سلیم پهٔ الله کلک باور لري چې دا سختې اؤ کړاوونه به ختمېږي، دا تکلیفونه دَ دې فاني ژوند سره تړلي څیزونه دي. سلیم اولس ته ډاډګیرنه ورکوي چې:

ملګریو مړهٔ خو نهٔ یئ ساه واخلئ

ویښ شئ خبر دَ خواؤشا واخلئ

دَ ژوند تیارې دَ نمر پهٔ څړیکو نهٔ ځي

دَ حؤصلو نه مو رڼا واخلئ

کهٔ پرې علاج دَ چا دَ اوښکو وشي

ما نه زما دَ ژوند خندا واخلئ...۱۴۹،۱۵۰

سلیم دَ طبقاتي نظام ډېر مخالفت کړے دے اؤ حقه خبره دا ده چې پهٔ دغه دؤره کښې چې څومره شاعران وو دغو ټولو دَ طبقاتي لري بري مخالفت کړے ؤ. ځکه چې پهٔ دې سیمه دَ غریب، مفلس، محکوم اؤ مزدور اولس دا حال ؤ. سلیم وائي.

ما نه بربنډ اولس لباس غواړي

پرېوتي خلق رانه لاس غواړي

ما نه چاپېره یتیمان ناست دي

ولږې وهلي ماشومان ناست دي

راځه اشنا  چې اول قام جوړ کړو

بیا کۀ فرصت وي بیا به قام جوړ کړو

تاریخ ګواه دے چې پښتنو تل دَ جابر سره مبارزه کړې ده دغه کۀ جاني وي کۀ قلمي وي اؤ کۀ بدني وي. هم دغه وجه ده چې چرته هم پښتون پۀ قلاره ژوند نۀ دے کړے. دَ وطن اؤ قام دَ پاره ئې تل خپل ځانونه اؤ مالونه پۀ داؤ لګولي دي. دَ پښتون غیرت چیړل ځان له کار کتل دي. دَ پښتون ټول تاریخ دَ جنګ وجدل نه ډک دے. پښتانۀ تل استعماري طاقتونو دَ خپل ځان اؤ خپلې فائدې دَ پاره استعمال کړي دی اؤ نن هم دغه سلسله جاري ده. لکه چې سلیم وائي.

داسي کلي کښي مې خلقه بودوباش دے

چې تاریخ ئې خون الود اؤ دلخراش دے

کۀ غاري دے کۀ عالِم زما دَ خاؤرې

پۀ عالَم کښي شناخت دَ بدمعاش دے

دَ جهان دَ استعمار لاس کښې لوبیږي

هر باچا زما دَ ملک باچا دَ تاش دے...۱۹۴

کۀ یؤ پلؤ زمونږ دَ واکمنانو دا حال ؤ نو بل اړخ ته پښتون اولس هم پۀ خپلو کښي بې اتفاقه ؤ. پۀ هر کور، کوڅه اؤ کلي کښې دَ بدنظمئ اور لګېدلے ؤ.سلیم ئې لکه دَ پوهه مصوّر نقشه وړاندې کوي چې

دَ دې کوز کندي پۀ خلقو څۀ بلا ده

لر و بر ئې چې کرلے ځان ته اور دے

مزدوران دې اوس څۀ نور اؤزار پیدا کړي

کۀ ستیک ئې بې دستي اؤ مات ئې لور دے

بیا دَ ګا دَ ارتداد فتوې کتے شي

بیا مفتي پۀ کتاب ولې رانسکور دے....۱۹۳

ننګ، غیرت اؤ پت دَ پښتنو جامه ده. پښتون سر اؤ مال بائلي خو دَ خپلې خبرې نه نۀ

اؤړي. سليم هم يؤ سوچه پښتون ؤ. هغۀ دَ ژوند دَ ناکړدو سره بلد ؤ. دَ خپل اولس دَ پاره هر څۀ ته تيار ؤ اؤ هره سختته ئي ښۀ پۀ اخلاص اؤ روڼ تندي سره زغمله ځکه چې دَ هغۀ مقصد اؤ مرام دا ؤ چې:

کاروان سره کۀ نۀ يم خو منزل راته معلوم دے

پۀ نويو نا بلده پۀ اوږدو لارو ورځمه

هم دا چې پۀ خلوص مې چرته ګوته يار کښېښږدي

دَ غلو پشاني نۀ يم، نۀ پۀ غلو لارو ورځمه...١٩٧

غرض دا چې دَ سليم شاعري دَ اولس فرياد دے دَ اولس دَ پاره يؤ ډاډ دے.دَ اولس دَ سر لوړی دَ پاره يؤ پېغام دے. هغه يؤ مقصدي اؤ انقلابي شاعر ؤ اؤ خپل ځان ئي دَ اولس دَ پاره وقف کړے ؤ. هغه يؤ انقلابي شاعر ؤ اؤ بيا دَ خپل ځان،دَ خپل سر هيڅ پروا نه کوي،ځان دَ اولس دَ پاره قربانوي اؤ پۀ جار اعلان کوي چې.

ما پۀ دار کړئ چې منصور خلقو ته ياد شي

مودې وشوې څوک پۀ دار نۀ دي ختلي..٧١